# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**28ثور _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

معاون سیاسی ریاست الوزرا: از هموطنان مهاجر میخواهم که با برگشت به وطن، زنده گی آبرو مندانه را اختیار کنند-1

سمنګان کې له (۲۰۰) زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې--------------------------------------------------------------2

برای ده ها خانواده درولایات بغلان و جوزجان به وسایل برق آفتابی توزیع شد--------------------------------------3

غزني د ولایتي عمل پلان جوړولو ورکشاپ ترسره شو -------------------------------------------------------------3

ګڼ شمېر کډوال په سرویس موټرونو کې له کرواسي څخه بوسنیا ته استول کېږي ------------------------------------4

په آلمان کې د پناه غوښتنې د محدودیتونو ۳۰ کاله پوره شول ---------------------------------------------------6

کشتی نجات گئو بارنتس با ۲۶ مهاجر نجات داده شده به سمت ایتالیا حرکت کرده است --------------------------------9

مجروح شدن یک مهاجر در نتیجه شلیک پولیس در شهر هانوفر آلمان ------------------------------------------ 11

# متن کامل اخبار

## معاون سیاسی ریاست الوزرا: از هموطنان مهاجر میخواهم که با برگشت به وطن، زنده گی آبرو مندانه را اختیار کنند

ویب سایت وزارت



**نکات فوق را محترم مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا در صحبت با الحاج خلیل الرحمن حقاني وزیر امور مهاجرین بیان داشت.**

**وزیر امور مهاجرین درنشست با معاون ریاست الوزرا، در رابطه به سهمیه حج برای مهاجرین افغان در خارج از کشور، سهولتهای که حین ادای حج برای ایشان در مکه معظمه ومدینه منوره ومحلات بود باش مناسب برای آنها در نظر گرفته شده است معلو مات داد.**

**حقانی علاوه نمود که وزارت امور مهاجرین پلان دارد وضعیت مهاجرین را درکشور های ایران و پاکستان درحالی از نزدیک بررسی نمایدکه رقم برگشت کننده گان از این دوکشور افزایش یافته است.**

**محترم معاون سیاسی ریاست الوزرا، با قدر دانی از وزیر امور مهاجرین گفت که هنوز شمار زیاد افغانها در مهاجرت به سر می برند ونیاز است که جهت حل دایمی مشکلات آنها به همکاری نهاد های بین المللی اقدا مات موثر صورت گیرد.**

وی اجراآت وزارت امور مهاجرین را در قسمت اعزام مهاجرین به حج موثر خواند و از مهاجرین افغان خواست که با برگشت به کشور، زنده گی آبرو مندانه را اختیار نمایند.

## سمنگان کې له (۲۰۰) زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




د (ACTION AID) موسسې له لوري د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ (۲۴۶) کورنیو سره د غوایي په )۲۵ (مه او (۲۶) مه نغدي مرستې وشوې.

**يادې کورنی چې مخکې د مهاجرينو چارو رياست له لورې د دغه ولايت په روی دآب او خروم سارباغ ولسواليو کې د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنی ته د کور جوړولو په موخه د اړتياوو په نظر کې کې نيولو سره ( ۱۱) زره او )۴۵۰(، )۱۹ (زره او (۱۰۰) او (۲۵) زره او ( ۵۵۰) افغانی نغدې ووېشل شوې.**

## برای ده ها خانواده درولایات بغلان و جوزجان به وسایل برق آفتابی توزیع شد

ویب سایت وزارت




**66خانواده در ولایات بغلان و جوزجان وسایل برق آفتابی ( سولر) کمک دو موسسه را به تاریخ 26 ثور دریافت نمودند.**
**برای هریک از خانواده های یادشده که قبلا از جانب ریاست های امورمهاجرین ولایات یادشده سروی وشناسایی شده بودند، دوتخته سولر، دو عدد بطری معه وسایل آن از جانب موسسات AKAH و UNHCRداده شد.**

## غزني د ولایتي عمل پلان جوړولو ورکشاپ ترسره شو

د وزارت ویب سایت




**د غزني ولایت د مهاجرینوچارو ریاست د راپور له مخې غزني کې د ولایتي عمل پلان د جوړولو ورکشاپ د دغه ولایت د والي په مشرۍ د یوشمېر همکارو بنسټونو د استازو په شتون کې د غوایي په ) ۲۶مه ترسره شو.**

**د غزني ولایت د مهاجرینو چارو آمر د یاد ورکشاپ جوړول د ستونزو د حل په برخه کې یو ښه ګام وباله او د ولایتي کاري پلان په اړه یې خبرې وکړې.**

**د غزني والي د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي څخه مننه وکړه او د ولایتي عمل پلان په جوړولو کې یې د همکاریو ډاډ ورکړ.**

**د مهاجرینو چارو وزارت پلاوي د پرېزینټیشن په وړاندې کولو سره د ورکشاپ ګډونوالو ته د ولایتي عمل پلان په اړه معلومات ورکړل او د ګډونوالو سوالونو ته یې ځوابونه ورکړل.**

## ګڼ شمېر کډوال په سرویس موټرونو کې له کرواسي څخه بوسنیا ته استول کېږي

مهاجرنیوز



**په بوسنیا کې د کډوالو مدافع بنسټونه وایي چې د روان کال په مارچ او اپریل میاشتو کې ګڼ شمېر کډوال په سرویس موټرونو کې له کرواسي څخه بوسنیا ته شړل شوي دي. د کرواسي چارواکي دا خبره مني او وایي چې دغه کډوال یې د دوه اړخیز هوکړه لیک پر اساس بوسنیا ته استولي دي .**

**د بوسنیا ځایي رسنیو د مارچ میاشتې په وروستیو ورځو او د اپریل میاشتې په پیل کې د هغو موټرونو په اړه راپورونه خپاره کړل چې کډوال یې له کرواسي څخه د بوسنیا لیپا او بوریچي کمپونو ته لیږدول. د <u>دنبوني آواز</u> په نوم خبري سایټ د مارچ میاشتې په ۳۱مه لیکلي وو چې «نږدې سل کډوال له کرواسي څخه په سرویس موټرونو کې بوسنیا ته» را وستل شوي او د بوسنیا بیهاچ ښار ته څېرمه لیپا کمپ ته لیږدول شوي دي.**

**نو نېم کېچن سازمان چې د بالکان هېوادونو کې فعالیت کوي له ځینو دغو کډوالو سره خبرې کړې دي.**

**دغه سازمان وایي چې د اپریل میاشتې په پیل کې یوه کردۍ کورنۍ د کرواسي د اورګاډي په یوه استېشن کې ونیول شوه. دغې کورنۍ ویلي دي چې یوې «زیرزمیني «ته انتقال شوې او هلته یې د خوب ځای او کمپلو پرته دوه ورځې تېرې کړې دي.**

**وروسته بیا دوی په یوه لارۍ کې یو بل توقیف ځای ته انتقال شوي او څو ورځې وروسته د کرواسي د چارواکو له خوا په سرویس موټر کې بوسنیا ته استول شوي دي.**

**دغې کورنۍ ویلي دي دې ته اړ شوې ده چې یو سند لاسلیک کړي. د کرواسي چارواکو د کورنۍ غړو ته ویلي دي چې د یو کال لپاره کرواسي ته د بېرته ستنېدو اجازه نه لري او که چېرې کرواسي ته ستانه شي نو په ۱۸ میاشتو بند محکومېدلی شي.**

**رسمي اخراجونه**

**دغه سند چې نو نېم کېچن ته په لاس ورغلی ښیي چې د کرواسي چارواکو کډوال دې ته اړ کړي دي چې د توقیف او اخراج لګښتونه ورکړي.**

**د بشري حقونو مدافع بنسټونه د دې سند په اړه اندېښنه څرګندوي او وايي چې داسې معلومېږي چې له کرواسي څخه بوسنیا ته د کډوالو اخراج رسمي بڼه خپله کړې ده.**

**د نو نېم کېچن غړې باربارا بېکارس کډوال نیوز ته وايي چې د هغوی د معلوماتو له مخې «د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوکړه لیک پر اساس ۲۵۰ تنه له کرواسي څخه بوسنیا ته لېږدول شوي دي.«**

**کډوالو اجازه نه درلوده چې پناه وغواړي**

**د یادولو ده چې شړل شویو کډوالو ته اجازه نه وه ورکړل شوې چې په کرواسي کې د پناه غوښتنه وکړي. د بشري حقونو د څار سازمان د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري له قوله وايي چې په ۲۰۲۱ کې ۵، په ۲۰۲۰ کې یو او په ۲۰۱۹ کې ۳ تنو ته په بوسنیا کې پناه ورکړل شوې ده.**

**یاد سازمان د مې میاشتې په لومړیو ورځو کې له کرواسي څخه د کډوالو د په شا تمبولو په اړه یو <u>راپور</u> خپور کړ. په دغه راپور کې راغلي دي چې د ۲۰ بې سرپرسته ماشومانو او ۲۰ والدینو په ګډون نېږدې ۱۰۰ کسانو ویلي دي چې له کرواسي څخه تاوتریخجنه توګه شړل شوي دي او د پناه غوښتنې اجازه ورکړل شوې نه ده.**

**بیا ولولئ :<u>اروپایي شورا د اروپا له پولو د کډوالو پر شا تمبولو نیوکه کړې</u>**

**کرواسي په وار وار په دې تورنه شوې چې کډوال یې په شا تمبولي دي، خو زاګرب بیا دا ادعاوې بې اساسه بولي. دغه هېواد تېره جنوري د شېنګن زون غړیتوب ترلاسه کړ. د بشري حقونو د څار سازمان په خپل راپور کې لیکي چې د شېنګن هېوادونو له خوا د کرواسي د غوښتنې له منل کېدو لږ مخکې له دغه هېواد څخه د شړل شویو کډوالو په شمېر کې کموالی راغلی و، خو په مارچ میاشت کې د کډوالو د اخراج لړۍ بیا پیل شوه.**

## په آلمان کې د پناه غوښتنې د محدودیتونو ۳۰ کاله پوره شول

مهاجرنیوز




په آلمان کې د پناه غوښتونکو د زیات شمېر له کبله احتجاجونه نوې خبره نه ده. همداسي احتجاجونه دېرش کاله ترمخه د پناه غوښتنې د محدودیت لامل شول .

په آلمان کې د «ګرونډ ګېزېټخ» په نوم د اساسي قانونه برخه د دغه هیواد د نظام، ارزښتونو او ګډ ژوند اساس جوړوي. په دغه کې د پناه غوښتنې حق هم شامل دی. دا د آلمان د اساسي قانونه هغه برخه ده چې پکښې د تغیر راوستلو لپاره یې په پارلمان بُندستاګ کې د دوه پر دریمه اکثریت رایو لرل حتمي دي.

د روان کال مې په لومړیو کې د آلمان د صدراعظم اولاف شولتڅ په مشرۍ د «مهاجرت سرمشریزه» کې بعضي وړاندیزونه وشول. په دغو کې دا وړاندیزونه هم شامل ول چې هغه مهاجر چې په اروپایي ټولنه کې د پاته کېدو چانس نه لري، هغوی دې د اروپایي ټولنې له سرحد څخه لا جواب کړل کیږي. داسي وړاندیز هم وشو چې د هغو هیوادونو په لیسټ کې دې لا زیات هیوادونه ور اضافه شي، چې خوندي ګڼل کیږي او وګړي یې بېرته په آسانه توګه اخراج کېدلای شي .

خو د پناه غوښتونکو د ملاتړ له سازمانونو څخه د یادې غونډې پر وړاندیزونو سخت انتقادونه وشول. په انتقاد کوونکو کې کلیساوې هم شاملي وې. بعضو وویل چې د مې میاشتې په «مهاجرت سرمشریزه» کې تر سره شوو بحثونو دېرش کاله تر مخه په آلمان کې د پناه غوښتنې په حق کې د محدودیتونو یاد بیا راتازه کړ. هغه وخت د آلمان د اساسي قانون مرکزي برخې «ګرونډ ګېزېټخ» ته تغیر ورکول شو .

»ازیول کمپرومیس«

د آلمان د مرکزي پارلمان بُندستاګ مسیحي اتحاد ګوندونو، لیبرال ګوند او د سوسیال دموکرات ګوند بعضو برخو پسله زیاتو بحثونو د ۱۹۹۳ کال د می میاشتې په ۲۶ نېټه د «ازیول کمپرومیس» یا د پناه غوښتنې په تړاو جوړجاړي په نوم قانوني تعدیل ته دوه پر دریمه برخه اکثریت رایې ورکړې. په عیني حال کې تر ۱۰ زرو څخه زیاتو انسانانو د دغه تعدیل پر ضد په بون ښار کې احتجاجونه وکړل.

د یاد تعدیل لامل هغه وخت و آلمان ته د راتلونکو مهاجرو په شمېر کې زیاتوالی و. په عیني حال کې د مهاجرو د کمپونو پر ضد د تاوتریخوالي ډکې حملې هم وشوې. د هغه وخت ائتلافي حکومت او د سوسیال دموکرات ګوند یوې برخې فیصله وکړه چې په پایله کې یې و آلمان ته مهاجرت محدود کړي. په زیاته د آلمان په لوېدیځ کې د دغه تعدیل پر ضد سخت مخالفتونه رابرسېره شوه.

د یادو مخالفتونو لامل د آلمان د ماضي صره تړلی دی. هغه دا چې د آلمان د اساسي قانون جوړونکو د نازیانو له وخت او بېروونکو تجربو څخه زدکړه کړې وه او په نتیجه کې یې په قانون کې هغو کسانو ته د پناه آسانی رامنځته کړي وې چې تر تعقیب لاندې وې. د نازیانو په وخت کې تقریبا نیم ملیون آلمانیان په ۸۰ بیلو هیوادونو کې مهاجر ول.

»تر سیاسي تعقیب لاندې کسان د پناه حق لري«

له دې کبله د ۱۹۴۹ د آلمان په اساسي قانون کې ولیکل شول چې «تر سیاسي تعقیب لاندې کسان د پناه حق لري». په دې توګه نو هر وګړي کولای شوای چې په آلمان کې د پناه غوښتنه وکړي. په زیاته په سړه جګړه کې د ختیځې اروپا زیات شمېر انسانانو له سیاسي تعقیب څخه پناه غوښته. په ۷۰ لسیزه کې له آسیا او افریقا څخه هم انسانانو په آلمان کې پناه غوښتنه پېل کړه.

په ۱۹۸۹ کال د شرقي او غربي آلمان د متحد کېدو وروسته انځور تغیر وخوړ. هغه دا چې د مات شوي شوروي له برخو او پخوانی یوګوسلاویې څخه هم زیات شمېر انسانان آلمان ته رامهاجر شول. په آلمان کې د پناه غوښتنې اوج ته ورسېدې. په ۱۹۸۸ کال په آلمان کې تقریبا سل زره مهاجر ثبت شو چې څلور کاله وروسته دغه کلنی شمطر ۴۳۸۱۹۱ ته جګ شو.

دا هغه وخت و چې آلمان د متحد کېدنې د مصارفو تر فشار لاندې و او په ختیځ کې د شرکتونو د منحل کېدو له کبله د بې روزګارانو شمېر هم زیات و. ناخوښي د دې لامل شوه چې د بهرنیانو ضد احساسات او تاوتریخوالی راوپارېږي. په آلمان کې د مهاجرو د سوځېدونکو کمپونو انځورونه په ټوله نړۍ کې خپاره شول. هغه وخت زیاتو رسنیو هم داسي سرلیکونه خپاره کړل لکه «کښنتی تر اندازې زیاته ډکه ده، چې دا د خارجیانو ضد روحیې څرګندويي کوي. د ۱۹۹۳ کال د می میاشتې په ۲۶ نېټه د آلمان د پارلمان ۵۲۱ غړو د »ازیول کمپرومیس» یا د پناه غوښتنې په تړاو جوړجاړي قانون په حق کې رایې واچولې. په دې توګه د آلمان د اساسي قانون په ۱۶ ماده کې تغیر راوستل شو چې پکښې د پناه غوښتنې په ترځ

کې محدودیتونه رامنځته شول. د تنقید کوونکو په وینا په دغه تعدیل سره په آلمان کې د پناه غوښتنې د حق مرکزي برخه لیري کړل شوه .

د تعدیل نقاط

د تعدیل وروسته هغو کسانو په آلمان کې د پناه غوښتنې حق له لاسه ورکړ چې له ګاونډي هیواد څخه آلمان ته راداخل شوي وي. په دې توګه هغوی په سمدلاسه توګه اخراج کېدلای شوای. د دریمو هیوادونو په نوم دغه اصل د اروپایي اتحادیې په نورو هیوادونو کې هم موجود و. د دې تر څنګ سیاستوالو د هغو هیوادونو د نومونو یو لیسټ جوړ کړل چې خوندي هیوادونه یې ګڼي او عموما ورته اخراج آسانه کیږي. له خوندي هیوادونو څخه راتلونکي تقریبا د پناه ترلاسه کولو هیڅ چانس نه لري.

که څه چې په ۱۹۹۶ کال د آلمان د اساسي قانون محکمې یاد تعدیل تایید کړ، خو دغه تعدیل تر نن پورې شخړیز دی. د مثال په توګه دا چې بعضي هیوادونه خوندي ګڼل کیږي لکه پنځه کاله تر مخه چې البانیا، بوسنیا او مونتینیګرو خوندي هیوادونه وبلل شول.

سیاستوال په لومړي سر کې په دې وتواندېدل چې په آلمان کې د پناه غوښتنو شمېر راکم کړي. په رشتیا هم د پناه غوښتنې په لوړه اندازه راکمې شوې. خو د لنډې مودې لپاره. د مهاجرو مخ په زیاتېدونکې شمېرې او د مهاجرت پر لارو د ژوند له لاسه ورکوونکو کسانو زیات شمېر د دې لامل ګرځي چې د پناه غوښتنې قوانین په تکراري توګه د بحث موضوع ګرځي. د آلمان سیاستوال په دې ترڅ کې د اروپایي مشترکو حلونو غوښتنه کوي. د دغې اتحادې راتلونکې سرمشریزه په جون میاشت کې ده.

## کشتی نجات گئو بارنتس با ۲۶ مهاجر نجات داده شده به سمت ایتالیا حرکت کرده است

مهاجرنیوز




**کشتی نجات "گئو پارنتس" با نجات ۲۶ مهاجر از بحیره مدیترانه به مسیر ایتالیا در حرکت است .مقامات ایتالیایی برای این کشتی نجات دریایی پس از عملیات امداد و نجات، روز سه شنبه یک بندر امن را برای لنگر انداختن تعیین کرده است .**

**سازمان امدادرسانی داکتران بدون مرز که این کشتی را اداره می کند گفته است که این بندر در فاصله ای قرار دارد که برای رسیدن به آن بیش از دو روز نیاز دارند .**

**حکومت راست‌گرای ایتالیا دستورالعمل‌هایی را برای کشتی‌های امداد و نجات خصوصی مشخص کرده است. از جمله موارد دیگر، تصریح شده است که این کشتی ها بلافاصله پس از عملیات نجات و قبل از اینکه به ماموریت دیگری بروند، باید به بندر اختصاص داده شده بروند. بدین ترتیب در این آواخر بیشتر بنادر دور، گاهی اوقات حتی در شمال ایتالیا برای این کشتی ها اختصاص داده می شود .**

**امدادگران دریایی هشدار می دهند که حضور آنها در نتیجه این اقدام حکومت ایتالیا در حوزه های کاربردی و یا حوزه های که مهاجران نیاز به نجات دارند، کوتاه می شود.**

**بحیره مدیترانه یکی از خطرناک ترین راه های فرار در جهان است .در حال حاضر یک ماموریت نجات دریایی تحت حمایت حکومت وجود ندارد. تنها کشتی های امدادگران دریایی خصوصی در بحیره مدیترانه برای عملیات های نجات مهاجران فعال اند .**

**بر اساس سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) از آغاز سال جاری، ۱۰۷۴ نفر در تلاش برای عبور از بحیره مدیترانه جان های خود را از دست داده اند. رقم موارد گزارش نشده احتمالاً بسیار بیشتر است.**

## مجروح شدن یک مهاجر در نتیجه شلیک پولیس در شهر هانوفر آلمان

مهاجرنیوز



**در جریان یک عملیات نیرو های پولیس در یک اقامتگاه پناهجویان در شهر هانوفر آلمان، یک مرد مهاجر شدیدا مجروح شده است. مقامات پولیس گفته اند که در برابر این مرد مهاجر از سلاح گرم استفاده شده است.**

**پولیس طی عملیاتی در یک اقامتگاه پناهجویان در شهر هانوفر آلمان به سمت مردی تیراندازی کرده و این مرد به شدت مجروح شده است. براساس اظهارات سخنگوی پولیس، این مرد با چاقو به سمت نیرو های عملیاتی پولیس نزدیک شده بود و از طرف دیگر او (مرد مهاجر) توجه ای هم به هدایت که ماموران پولیس برایش می دادند، نکرده بود.**

**سخنگوی پولیس در ادامه گفته است که در برابر این مرد مهاجر "از سلاح گرم استفاده شده است". در ادامه گفته شده است که مهاجر شدیدا مجروح شده و اکنون در شفاخانه بستری است. اما به نیروهای پولیس صدمه نرسیده است.**

**بر اساس اطلاعات به دست آمده، پولیس تقریبا به ساعت شش و نیم صبح در اقامتگاه مهاجران در منطقه "وینهوست" در شهر هانوفر آلمان حضور پیدا کرده بود، زیرا از یک مردی که قوانین اقامتگاه را زیر پا کرده است، شکایت صورت گرفته بود .**

**در مورد پیشینه این حادثه و هویت فرد مهاجر هنوز اطلاعاتی به دست نیامده است.**

خبرنامه